ومیخ‌شمارا است على ساحت نسیم
تا بر مردم گر نگاه باشید پیاپس پس بر فرق ظالم شما گواه باشید

(۸) صفحه

شهادت

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

محمودمستیري دجلال آباداوکندهاردسفرنه بیرته اسلام آبادته ستون شوي

جلال آباد - دسلواغي ۱٦ نیټه :

دافغانستان له پاره دملګروملتوخاص استازي محمودمستیري دخومیاشتو راهیسې دیومینځ مهاله حکومت دجوړیدوله پاره پریومیکانیزم کارکوي مستیري ددې مقصد له پاره دافغانستان په دننه اوبهرکي دافغاني مشرانوسره په مشوروبوخت دي اواوس دي جلال آباد ته تللي ترڅو دافغاني مشرانوسره په هغه بنارکي وګوري .

خبرېاتوي چې مستیري په جلال آبادکي دځینونورو مشرانوسره وکتل وروسته محمودمستیري دجلال آبادنه دکندهاربنارته لاړترڅوهلته دطالبانوسره دسولې پرمیکانیزم ووغږیږي .

په یوبل خبرکي ویل شوي چې محمودمستیري اوس بیرته اسلام آباد ته راغلي اودخپلو وروستیو هلوځلوپه اړوندیې تراوسه پورې څه نه دي ویلي .

ایران برتحرکات نظامي امریکادرخلیج فارس اعتراض کرد

تهران - ١٦ دلو :

ایران به خاطرفعالیت کشتي هاي جنگي ایالات متحده امریکادرخلیج فارس وبحیره عمان برملل متحد اعتراض کرده است .

به اساس خبرگزاري هاي جهان، ایران روزجمعه گذشته نامه یي رابراي بطروس غالي سرمنشي ملل متحد فرستاده ودرآن فعالیت کشتي هاي جنگي ایالات متحده درخلیج فارس وبحیره عمان رادردسري براي طیارات وکشتي هاي جنگي ایران خوانده است .

درین نامه ازفرود آوردن یك طیاره ایراني توسط یك طیاره ضد تحت البحري امریکا، اخلال کردن تمرینات بحري ایران ،قلم گیري ازیك کشتي ایراني توسط هلیکوپترامریکایي وتلاشي کشتي هاي نفت کش ایراني تذکررفته است .

شماره مسلسل (۸۹۹) سال هفدهم -شماره (۱۳۷) سه شنبه (۱۸) دلو ۱۳۷۳ هـ ش - (۸) رمضان المبارك ۱٤۱٥ ه- ق - (۷) فبروري ۱۹۹٥ م قیمت (۱٥۰) افغاني (۲ روپیه)

به گزارش قوماندانان حزب اسلامي ازولایت کندز

شهرکندز ونواحی آن بطورکامل بدست نیروهای شورای عالی هماهنگی فتح گردید

شیرخان بندر نیز ازلوث نیروهای ائتلافی پاکسازی شد

کندز - ۱۷ دلو :

قوماندانان حزب اسلامي ازولایت کندز طي تماس هاي مخابروي به دفتر روزنامه شهادت گزارش دادند که درنتیجه عملیات متحدانه وهماهنگ نیروهاي شوراي هماهنگي که یك هفته قبل آغازشده بود، شهرکندزونواحي آن باجمله تاسیسات نظامي و ملکي آن بدست نیروهاي شوراي هماهنگي افتاد

گزارش حاکیست که مجاهدین روزیکشنبه ۱٦ دلو درنتیجه یك عملیات برق آسا، خطوط دفاعي نیروهاي ائتلافي را شکسته وارد میدان هوایي وشهرکندزشدند ونقاط ذیل را به تصرف خود درآوردند : میدان هوایي، فرقه ٥٤ ،قول اردو، ریاست اطلاعات وکلتور، مقام ولایت ،قوماندانی امنیه، ریاست مخابرات ، ریاست رادیو تلویزیون، بالاحصار، ریاست تصدي سپین زر،ریاست خاد، بندرشیرخان وسایرنقاط ولایت کندز.

درگزارش آمده است که درین عملیات تعداد زیادي ازتفنگداران اداره ائتلافي تسلیم ویااسیرگردیده اند.

ص(۷)

قوماندان جمعه خان «همدرد»

قوماندان ماموزغیور

قوماندان بشیرخان

قوماندان سیدحمیدالله

مولوي عبدالواجدصاحب زاده دبي بي سي سره په مرکه کي:

طالبان بایدپه جګړه اووینوتویولوکي خانونه بدنام نکړي

دافغانستان جیدعالم صاحب زاده عبدالواجد دبي بي سي راډیوسره دمرکي په ترکي دطالبانوپه هکله وویل زمانظردادي چې طالبان په جګړه اووینوتویولو باید ځانونه بدنام نکړي ځکه داپومرض دي اودمرض علاج په مرض باندي نه کیږي .

ده زیاته کړه بهتره داوه چې هغوي دخپل روحانیتونوپه واسطه دمتحاربوقوتونوترمینځ دیودریم فشاري قوت په شکل داصلاح اوخیراوسنتي زیارایستلي واي اودادعلماؤ اوطالبانومذهبي اودیني دنده ده اوکه خداي مکړه داقوت په یوطرف کي واقع شي بیابه دعام ملت له کرکي اونفرت سره مخامخ شي

(۷)مخ

په ننګرهار کي دترجمي اوتفسیر ۳۲ مرکزونه پرانیستل شول

دننګرهارپه ولایت کي دجماعه اشاعت التوحید اوسنت دمشر شیخ القرآن والحدیث مولانا میرسمیع الحق دیبوبي سره سم دروژې مبارکي میاشتي په اوږدوکي دقرآنکریم دتفسیراوترجمي ۳۲ مرکزونه دجماعت ولایتي امیرمولانا منهاج الدین اومولانا نیك محمد پهٔافتتاحیه ویناووپرانستل شول .

بعد از شکست شوراي نظار درکندز

کوشش مسعود براي جلب کمك ازمردم بدخشان ناکام گردید

کندز - ١٦ دلو :

پس ازشکست وپس پاني شوراي نظار ازشهرکندز، مورال هواداران شوراي نظار درولایات بغلان، تخارو بدخشان نیز خراب شده است .

گزارش رسیده ازشهرکندز حاکي ازآن است که مسعود براي جلب کمك مردم بدخشان اخیراً نمایندگان خودرا بامقادیرپول ووعده هاي گوناگون دیگرنزد قوماندانهاي بدخشان ازجمله قوماندان مهم مولوي « خردمند » ارسال نموده وگفته است :« اکنون جنگ تنظیمي وسیاسي نیست بلکه جنگ تاجك وازبك باپشتونهامدنظر بوده ولازم است که تمام قوماندانهاي بدخشان خواه حزبي باشند یاجمعیتي، باید باتمام قوا دربهلوي شوراي نظارقرارگیرند » .

ص(۷)

درنتیجه عملیات تدافعي مجاهدین حزب اسلامي

درولایت وردك -میدان آشوبگران مسلح موسوم به طالبان به استقامت غزني درحال فراراند

گروه موسوم به طالبان درولایت وردك- میدان بامقاومت شدیدمجاهدین واهالي روبرو شدند

وردگ - ١٧ دلو :

گزارشگرروزنامه شهادت ازقوماندانان مجاهدین حزب اسلامي درولایت وردگ میدان گزارش میدهدکه نیروهاي حزب اسلامي افغانستان میخواستندکه ازطریق مذاکره ومفاهمه راه رابروي گروه طالبان بطرف کابل بازسازند، ولي بعضي ازعناصر موسوم به گروه نامبرده دست به ایجاد فتنه در منطقه زدند وعملاً جنگ را دربعضي مناطق ولایت میدان - وردگ علیه مجاهدین آغازنمودند،که درنتیجه اقدام متقابل ، تلفات سنگیني به گروه طالبان وارد گردیده واکنون ایشان در منطقه سیداباد وردگ تحت محاصره شدید نیروهاي شوراي عالي هماهنگي قرارگرفته وتلاش دارند تابسوي غزني فرارنمایند .

گزارشگرروزنامه شهادت اضافه میکند که نیروهاي تازه دم شوراي عالي

ص (۷)

با استفاده ازگرفتاري هاي حزب اسلامي درغزني و وردك

مسعود در پي یك تهاجم وسیع درولسوالي تگاب می باشد

پشاور - ۱٦ دلو :

اطلاعات رسیده حکایت ازآن داردکه مسعود قوماندان مسلم و قوماندان صالح را که ازوابستگان شوراي نظاردرمنطقه میباشند باامکانات وافربطرف ولسوالي تگاب فرستاده است .

همچنان گزارش شده که مسعودیك تعداد افراد خودرا بخاطر سهمگیري درعملیات تگاب ازکابل بیرون برده است .

ص (۷)

شوراي عالي هماهنگي با هر پروگرامي که قصد آن برهم زدن مساعي صلح باشد ، مخالفت خواهد کرد

جلال آباد - ١٧ دلو :

روزجمعه هیئت عالي شوراي عالي هماهنگي وارد جلال آباد شد .دوروزقبل ازاین ، یك هیئت اداره ائتلافي تحت ریاست سیاف نیز به جلال آباد رسیده وبوساطت هیئت سوداني وجنرال حمیدگل تعهد سپرده بودکه براي حل وفصل اختلافات ،حاضربه ملاقات جدي وقاطع میباشد.

خبرنگارشهادت مینویسد ،یکعده مبصرین جهادي مصروفیت هاي جناب سیاف رادرجلال آباد تحت بررسي قرارداده ومعتقدندکه رهبر«اتحاد» که برخلاف آنچه ادعاشده بود، کدام نقش جدي وتازه اي براي استقرارصلح، باخود نداشته است .

مبصرین خاطرنشان کرده اند، باتوجه بفعالیت هاي سیاف درجلال آباد فکرمي شود پروگرام دیداراستاد سیاف

ص(۷)

دربرگهای این شماره

صفحه دوم
* افغانستان : د اقتدار د خلا دبحران او د واکمني د انتقال ترمنځ
* درحاشیه سفر هیئت اداره ائتلافي به جلال آباد

صفحه سوم
* اخلاق روزه دار
* خپل دښمنان وپیژني .
* دمنځني آسیا په هکله دامریکاپالیسي
* په کوهدامن اوپروان کي دائتلافي اداري فتني

صفحه چارم
* فقه رمضان .
* حق احفظ معاش واسلام
* په اسلامي ریاست کي دفقهي اختلافونو حل
* از چهارگوشه جهان

صفحه پنجم
* دنیاي جوانان

صفحه ششم
* مسلمانان فراموش شدهٔ شهر"میکاو"
* امریکا ددهشت اچوني او د تروریستانو د روزني مرکز
* حقایق وچشمدیدها
* انعکاسات

مسلمانومبارزینوپه مصرکي یوتن پولیس مړاوه تنه نورټپیان کړي دي

قاهره - دسلواغي ١٦ :

دمصرپولیسو ویلي چې دهغه هیوادپه جنوبي برخوکي دمسلمانومبارزینو دیوي حملي په ترڅ کي یوتن پولیس مړاوپنځه تنه نورټپیان شوي دي .

دوي وایي چې داېرید دجماعة الاسلامیه دډلي له خواپه ملاوي کي ترسره شوي دي .

خبرېاتوي په دي وروستیو میاشتوکي ملاوي دمسلمانانو دچریکي عملیاتو مرکز ګرځیدلي ، ددري کالوراپه دي خوا چې مسلمانو مبارزینو دمصرد حکومت دنسکورولو کوشش کي لګیادي کم له کمه شپږسوه تنه حکومتي مامورین اوپولیس وژل شوي دي .

پیر سید احمد گیلاني درملاقات باقوماندانان ننګرهار

عملیات صلح باید از جلال آباد آغاز شود

پشاور - ١٧ دلو :

وضع صلح آمیزفعلي ننګرهارکه درنتیجه تفاهم وهمکاري شوراي جهادي این ولایت بوجود آمده باید بیشترتقویه گردد. این مطلب راپیرسید احمد گیلاني بایکعده قوماندانهاي ننګرهارروزسه شنبه گذشته درکاخ جلال آباد اظهارداشته است .

جریده «محاذ » گزارش کرده است که پیرسیداحمدگیلاني باتوجه به موقعیت هاي شوراي ننګرهار توقع

ص (۷)

مردم پاکستان بخاطر همبستگي با مبارزین کشمیر

روز یکشنبه درعموم شهرهای انکشوردست به تظاهرات زدند

اسلام آباد - ١٧ دلو :

مردم پاکستان روزیکشنبه بنابردرخواست حکومت به خاطر حمایت ازمبارزین کشمیرتحت اشغال هنددست به اعتصاب عمومي زدند.

به اساس گزارش خبرگزاري هاي جهان مراکز کار، دفاترحکومتي ،بازارهاي دادوستد ،مکاتب ومدرسه هادرعموم شهرهاي پاکستان مسدود شده بودند وحکومت پاکستان این روزرا تعطیل عمومي اعلان کرده بود. همچنان مردم

ص (٥)

سر مقاله

بوازي بیطرفه موقت حکومت کولي شي چې په افغانستان کې سوله تأمین کړي

اوس هرڅوک په دې پوهیږي چې اوامن ته لیوال افغان داخبره کوي چې بوازي بوبي طرفه موقتي حکومت کولي شي چې په افغانستان کي سوله تأمین کړي، څه کم دریوکالوتجربوداخبره ثابته کړه چې یوګوندیزاویاګڼ ګوندیزشریك حکومت دافغانستان یو مشکل هم نشي حلولی ، بلکي خپلمنځي رقابت او یوبل له پښوکښولواوله صحني نه دووکولو مسابقه پرمخ بیول کیږي چې څه کم دري کاله اوږدوخت ددې حقیقت څرګندمثال اودلیل دي، ډیرځلي جهادي مشرانو پخپلومنځونوکي توافقات اومعاهدي لاس لیك کړي،لیکن دځان پالني اوانحصارغلي جذبه دومره غالبه وه چې څوورځوله پاره ئې هم پخپلوکي ندي زغملي اویوبل دکمزوري کولو اوله صحني نه دوبستلومسابقه ئې جاري ساتلي ده، دهمدغه ځان خوښوني اواقتدارغوښتني ناروا جذبه وه چې افغانستان داوریه بلي بدل شوي اوهروخت لوخړي ترینه خیژي . له دغه تباهي اوبربادي نه دوتلوپه خاطر بوازیني لاره همداپاتي ده چې تورنوسوله وال جهادي ګوندونه دملت اوهیواد دبقا اواستحکام له پاره له خپل اقتدارنه لاس په سرشي اوحکومت دمؤقت وخت له پاره ثالثو کسانوته پریږدي ترڅودغه موقت حکومت په پوره بیطرفي راتلونکي له پاره دیوقانوني اوشرعي حکومت دجوړولو لاره هواره کړي اوملت پخپله خوښه دخپلورایوداستعمال په ذریعه یوقانوني حکومت جوړکړي، دافغانستان اسلامي حزب له اولي ورځي نه په همدي خبره اصرارکوي چې دموجوده تباه کوونکي حالت نه دوتلو په خاطر باید یوموقت بیطرفه حکومت جوړشي، دملګروملتواستازي محمودمستیري هم پدي حقیقت رسیدلي دي چې دټولو ګوندونوپه توافق دیوه بیطرفه موقت حکومت ته ضرورت دي . هغه غواړي چې داسي یوحکومت تشکیل کړي چې ټول تنظیمونه وربادي راضي وي اوپه پوره ډاډسره کاروکړي ،پدي لړکي لګیادي دټولو ګوندونومشرانو رضایت ترلاسه کوي، لیکن دکابل موجوده ائتلافي واکداران عملاً دمحمودمستیري دغوهلوځلوسره دلچسپي نلري اوغواړي چې یوځلي بیاداسي یوډرامه جوړه کړي چې ظاهراً دقدرت انتقال صورت ونیسي لیکن بنیادي فرق پکې هیڅ رانشي ، همدي مقصدته درسیدوپه خاطر داستادسیاف په مشري ائتلافي هیئت جلال آبادته رسیدلي دي ترڅوځیني جهادي مشران ددغو خوږوخبروپه جادوکي رامحصورکړي چې باید راتلونکي حکومت له مجاهدینونه جوړشوي وي، که څه هم داستاد سیاف دغه خبره ظاهراً زړه راښکونکي ښکاري لیکن حقیقت دادي چې دکابل ائتلافي واکدارانو پرخوله هیڅوك اعتبارنشي کولی ځکه چې هغوي له ځان نه پرته دبل هیڅ‌ازغملوته تیارنه دي هغوي ددریوکالوپه اوږدوکي ثابته کړه چې دافغانستان هیڅ جهادي ګوندته په درنښت ندي کتلي بلکي کوښښ ئې کړیدي چې ټول جهادي ګوندونه دسیاست له صحني نه بیرون وباسي اوبیابي خپل ځانته تسلیم کړي . که دوي دجهادي ګوندونوپه احترام اوښته والي قانع واي نوبیابه داسلام آباد اوجلال آباد دتړون سره سم جوړه شوي کابینه کارته پریښي واي اودهغوي دبې اختیاره کولو اوهرڅه پخپل لاس کي دنیولو کوشش ئې نه واي کړي ، ښکاره خبره ده چې دکابل دائتلافي اداري واکدارانودغه عمل په نظرکي نیولو سره هیڅ ګوند دیته زړه نشي ښه کولي چې دجهادي ګوندونو په ګډون به یوبل موقتي حکومت جوړکړي ځکه چې په اسلام آباداوجلال آبادکي

(۸)مخ

سخن روز

دامت تغافل اود استکبار غوړیدلي دامونه

اکبري

روس، امریکا اوانګریزهریوډخپل پخواني حسدله مخي دانتقام اخیستو په غرض نه بوازي داسلامي نړي په تذلیلولوپسي رااخیستي بلکي داسلامي هیوادونو دتجزیې ناوره پروسه پرمخ بیایي اولکه دلیونیو سپیو په څیرئي دهغوي داړلوته خولې وازي کړي دي، په هره پلمه دسیسه اووسیله چي کیداي شي دخپل سنجولي منحوس پلان دعملي کیدو له پاره دمختلفو څیرو په رامنځته کولو شپه اوورځ لګیادي کارکوي . اوبدي لاره کي دځان له پاره تربل هرچازیات خطراوخنډدافغانستان نه ابلیدونکي ملت چي لومړي یې دانګریزي استعمارپرټټه دماتي ګوزاراوبیادروسي کمونیزم پرککري مرګاني ګوزارونه وکړل ګڼي امریکادخپلو انډیوالانواوروس - انګریزي) دواړوته دافغانانوله لاسه دوړپیښوکړ اوونوبه پام کي نیولو سره دخپلو شوموپهپلانونوترسره کول هم دهمدغه څیورافغاني ملت په پوره میړانه اوثبات پرسپند لاهوریني، همدالامل دي چي نن نه بوازي دملت پرخوښه دیوځواکمن اسلامي حکومت دقاییدوپه وړاندي خنډاوهم دنورو خنډانودراپورته کولو په هڅه کي دي بلکي دځینو سیاسي میصریټو دځپړتو پریناء زمونږ په خاوره کي دجنګ داوږدولو اوبیا له همدي لاري دخاوري دتجزیې پروسه پرمخ بیولو ته یې هم پیڅي راپورته کړي خودځینوپوهانو اوحالاتو څیرونکو له نظره به دافغانستان تجزیه نه بوازي دافغانستان په ویش اوناپودي تمامه شي . بلکي داډول ستونزي اوپیښي به په ډېره بیړه دګاونډیوهیوادونومقدرهم وګرزي خودتاریخي څیړنوڅخه جوتیږي چي انګریزي نړیوالي استعماري امپراتوري دماتي نړیدواوتغرتپولیدوپیلامه دافغانانو پرلاسونواوسرښندنوشوه چي بیابي په ګرده نړي کي پښي ټینګي نشوي اوبالاخره هغه امپراتوري چي دهغوي (انګریزانو) په اصطلاح به لمریکي نه پریوتونن دانګلستان په یوه تاپووزمه بدله شوي ده . که څه هم اوس دانګریزي بلوسي اوزورګیري ارته لمن په ښکاره ډول راټوله شوي خودشیطاني اولاسوهني جال دهمغه پخواپشان خوراوبالخصوص داسلامي هیوادونو سیاسي، اجتماعي اواقتصادي چاپیریال پکي ښکیل پاته دي چي اسلامي هیوادونو ته نتني وربیښي ستونزي یې ښکاره بیلګه ده .

همداډول روسي امپراتوري چي ترپرونه یې دمنځني اسیادجمهوریتونواودسیمي نورو نژدي په نغرلوسره یې دلویدیزي (انګریزي استعمار) امپراتوري په څیرچي په یوه خواکي به یې دسهارروښنایي په راپورته کیدو اوپه بله خواکي به یې دماښام تیاري خوریدي داهم دهغوایماندارو افغان بچیانوله لاسه چي پلرواونیکونویي انګریزي زورګیرپوځ ته دسرپه کاسه کي اوبه ورکړي وي دخپلو اسلافوپه څیریې دروسانوککري خاوري اودجابري امپراتوري دواك مراندي وشلولي او همدااوس دتجزیې لوي بلا په خوله کي پریوتي اوپه ګورږچي پاپله به یې څه کیږي .

له انګریزي اوروسي زورازمویني وروسته اوس امریکایي امپریالیزم دنړیوال نظام ترپردي لاندي غواړي دهغوي (انګریز - روس) په څیر پرنړي دخپل پانګوال نظام سلطه قایمه کړي خوامریکاهم دروسانواوانګریزانوپه څیردخپل دغه منحوس پلان په وړاندي تربل هرچاافغانان پدي لاره کي سترخنډاودسترګو اغزي ویني چي ګواکي دخوریدونکي دام حلقي به یې هم دهمدي افغانانو په لاسوشلیږي، همدالامل دي چي زمونږ دوراني ستونزي په اوږدولواوپرملت دتپل شوي واکمني دبقا اوبیشوتینګولو له پاره یې دهرډول مرستولاس ورغزولي دي چي پدې لړکي له هرڅه لومړي تبلیغاتي وسایل اودندورچیان دثبوت ښکاره بیلګه ده اوهغه مرستي چي تریردي لاندي ترسره کیږي پري مرستندویه مشاورین اودمرستي ترلاسه کوونکي انډیوالان ښه خبردي .

له بلي خوا امریکایي امپریالیزم اوانډیوالان ئي دبشري مرستوترډام لاندي دداسي ادارو اوحلقو فعالولوته زمینه برابروي څولدي لاري دافغانا نو ترمنځ ددښمني اورتاوده وساتي ، له خپل ځوارلس کلن جهادڅخه پښیمانه اوپخپلوجهادي قیادتونویي تردي حده بدګومانه کړي چي دنومونو په وریادولو سره یې دزړه له تل څخه دکیني ،نفرت اوحسداورلمبي دومره سوزوونکي شي چي دهغوي له نابودي اوویني له توییدوپرته یې پربل څه ناونه سړیږي. خوکه دتیرودووکلواوانه میاشتوپه موده کي دملت حالت ته دواقعیتونو په هنداره کي وکتل شي ربښیاهم چي دتحمیلي اومخلوطي واکمني په خاطرله مجاهدملت سره په څومره بیرحمي اوزورګیري معامله روانه ده، ددي پرځاي چي ورسره خواخوږي وشي، پرسریې دترحم اوعاطفي لاس راکښل شي، برعکس ورځ په ورځ له ځانه بیګانه کول، مادي اومعنوي ارزښتونه یې دنورو په لمنو کي وراچول اوان تردي چي دهجرت له دیارڅخه خپل هیوادته دراستنیدوزړه هم نه کیږي چي له همدي امله نن پري دهغودښمنانودغیرمستقیم تسلط پنجي ښخي دي چي له مودو مودویې وېنوته تږي دخاوري دتجزیې اوبري دبلوسي له پاره دانتظار شپي ورځي تیرولي .

نن چي دکابل دایتلافي اداري مخلوطي واکمني ته لوګي شوي اودهیوادپه دننه اوبهرکي دهجرت شپوروځوپه تیرولو مجبورشوي ملت چي دهرناوړین سیلي اوتوپانونو سره مخ کیږي اوبادخپلمنځي جنګونوله امله په اورکي سوزول کیږي اوبااثردي وروسته هیواد لانورهم په کنډواله بدلول کیږي واضح ده چي مسئولیت ئي دهمغه چاپرغاړه دي چي پرواك دپاته کیدواوبابنیت له پاره ددي بیوزلي ولس پرویشو اوسرونو هرډول سوداګولو ته لنګ وهلي ناست دي .

ګرداسلامي امت اوبالخصوص زمونږدجهادي مشال پټنګ ملت اونړیوال اسلامي خوځښتونه خوبدي ئمه ووچي دخپلو بریاووپه برکت به دنړي استکباري ځواکونه لدي وروسته داجرئت ونشي کړاي چي داسلامي هیوادونو په دننه کي لاسوهني اوبا دي دهغوي له موجودیت، هویت اوشخصیاتوسره په ډېره بیباکي اوسپین سترګي لوبي وکړي خوګوږو چي نه بوازي نوروکفري ځواکونوداسلامي هیوادوپه زمولواوداسلامي نوغي او ښیرازي لتاړولو اوویستلوته مټي رانغاړلي بلکي هغه روس چي همدانن هم زمونږله لاسه دنړیواله رسواماتي پرتنده خوړلي ټپ ندي ورغلي دچیچن پرمسلمانانویي داسي غوبل جوړکړي چي پرمړویي دهغه دکلیواوښارونو کوڅي ډکي او داسي ویره خوره ده چي که دبیکچه مړوجسدونه په بیره ترخاورولاندي نشي نودطاعون دناروغي نښي ډېري نژدي اوپه ډاګه بریښي .

نوکه په ګران هیوادافغانستان کي په ریښتونې توګه اسلامي حکومت جوړ، امن اوسوله برقراره وي نوداڅه ناشوني خبره نه وه چي زمونږمسلمان ملت به دچیچن ،بوسنیااوکشمیري مسلمانو ورونو ترڅنګ ولاړ، دهغوي دخپلواکي اواستقلال له پاره خپلي وینې اوسرونه ، نه واي نذرانه کړي خوپه ډېر تاسف سره به ووایوچي نن یې ددغسي سرلوړیواوافتخاراتوپاتګه دکابل دایتلافي اداري دګډواندیوالانو اودهغوي دبهرنیومرستندویه مشاورینوله اړخه دخاورو اوابرړیشان په ډېره بې ارزښتي سره یوه خوااویله خواپرپادیووړل شوه .

که نه ،نونن به هم لکه دپخواپه شان اسلامي ځرك اوورانګویه یوځل بیا دکفري نړي پراستبدادیت زلزله ګډه کړي اوتیاره ګوټونه به یې روښانه کړي واي، خو دکابل دایتلافي اداري په ځېرڅخېنونورو اسلامي هیوادوپښتواسلامي حاکمیتونو دنشتوالي لامل دي چي نن ورځ دمحمدبن قاسم ، دصلاح الدین ایوبي دامام شامل اومحمودغزنوي پرمفتوحه سیمو دیهودو اوهنود وینجي ښخي دي .

افغانستان: داقتدارد خلاء بحران اود واکمني دانتقال ترمنځ

محترم استاد: اوس به څه کیږي؟

په تېر پسې — استاد قریب الرحمن "سعید" — درېیمه برخه

۲- استاد دخپلو تعهداتو په رڼا کي

د تیري چهارشنبې په ورځ کله چي استادرباني او انجنیرصاحب حکمتیار ترمنځ په پخوانیو تعهداتو باندي دیوي مختصري کتني په غرض قلم رااخست نو خبر راغي چي همدا اوس یو بل عالي رتبه هیئت د دولت له اړخه جلال آباد ته راورسید چي په کي دمحترم استاد سیاف څخه علاوه دجمعیت ،نظار، اوحرکت انقلاب شخصیتونو هم ګډون درلود که څه هم ددوي ارزو خوداوه اوډېره پخوا څخه داده چي ددوي غواړي دحزب اسلامي افغانستان دیوه هیئت سره دهمآهنګي د شورا څخه په مجزا توګه لیدنه وکړي او په دي ترتیب دحزب اسلامي اودهغي دحلیفوتنظیمونو ترمینځ په دغه نازك اوحساس پړاو کي بدګماني زیاتي کړي دبله پلوه که حقیقت ته څیر شو او دپخوانیوتعهداتو په رڼاکي لږڅه عمیق شو نو د استاد رباني د ډلي اودحزب ترمنځ چي کله هم تعهداتو صورت نیولي بیا د هغي د پلي کولو له پاره هیڅ اخلاقي معیار کار نه دي ورکړي اونه داسي اجباري ځواك وچي دهغي په پلي کولو کي دي دقوي زور څخه کاروااخلي . بلکه هر قرارداد اوترون د کاغذ پر مخ درنګ دپاته کیدو او یو یا څو پاڼو کاغذ ضایع کیدو پرته نورڅه نه و، که څه هم دهمدغه پخوانیو تحلیلونو په رڼا کي د اوسنیو خبرواترو څخه هم دڅه خیر امکان کم لیدل کیږي خو په هر صورت دا به وروسته له خبرو څخه‌یه ډاګه کیږي . په هر صورت کتونکي فکر کوي چي ددولت ددغه هیئت سره کوم داسي پاڅه وړاندیزونه په لاس کي نه شته . ممکن په پخوا په څیر بیا یو لړ مجبوریتونو هغوي دي لوري ته رارهي کړي وي . خو که چیري د دوي ترمنځ کوم داسي قرارداد صورت هم ونیسي نو په هغي صورت کي به هم دهغي قرارداد اوترون برخه لیك دپخوانیو څخه بدل نه وي . بلکه برعکس به دکابل اداره د حزب اسلامي دانډیوالانو ترمنځ دحزب په بدګمانیو کي زیاتوالي راوړي او په دي ترتیب به په تنهایي سره حزب اسلامي ددوي ښکار شي . خو خداي دي وکړي چي داسي ونه شي .

په هرصورت د ۱۹۹۲ کال د اپریل دمیاشتي راهیسي یعني هغه وخت چي په کابل کي کمونستو واکمنانو خپله واکمني د پیښور د ترون له مخي ناکل شوي لمړني جمهور رئیس پروفیسورمجددي صاحب ته پریښووده ، د همالغه وخته را پدیخوانژدي ۱٤ لوي اوکوچني تعهدات دمشرانو ترمنځ شوي چي زیات یې دمحترم استاد رباني اومحترم انجنیر حکمتیار ترمنځ شوي دي . په دي ترونونو کي لمړني دوه یې د پروفیسور مجددي د دوومیاشتني اقتدار په وخت کي شوي چي بویې هم په بګرامیو کي اودوهم یې په ریشخوروکي صورت ونیو . په دغه وخت کي استاد رباني داقتدار له پاره امیدواره و او د مجددي صاحب څخه وروسته یې غوښتل په اقتدار قابض شي . په دغه وخت کي دحزب اوجمعیت ترمنځ اړیکي دومره خرابي نه وي . بلکه هلته په کابل کي دکمونستو حکومتونو څخه د راپاته قطعاتو موجودیت اواحمدشاه مسعود او ددغه کمونستو قطعاتو ترمنځ ائتلاف حزب اسلامي په پوره حرج کي اچولي . حزب دمجددي صاحب رانګ تر مخه غوښتل دکمونستو په خلاف وجنګیږي او تر ډېره حده پوري په خپل دغه پروګرام کي بریالي هم و خت دحزب ځواکونه هماغه وخت په لمړي ځل د وروسته تګ لپاره مجبورشول چي له یوي خوا په پیښورکي جوړه شوي طرح دحزب دامیر اوجهادي قوماندانانو د جنګ ددوام د پریکړي پرخلاف د حزب داستاز یو ځوادترون د جوړښت نه دوه ورځي وروسته په ډېر بې وخته وخت کي لاسلیك شوه اودهغي له مخي پروفیسور مجددي په قانوني توګه جمهور رئیس ومنل شواو دبله اړخه پخپله د پوهاند مجددي صاحب دکابل ښارته ننوتل او داسلامي حکومت اعلان دحزب اسلامي مجاهد ځواکونه په شك کي واچول . ددي ترڅنګ دمؤقت حکومت سره دپخوانیو کمونستو ځواکونو پیوستون اوهغه داسلامي اردودبرخي په څیر اعلان هم مجاهدین اندیښمن کړل دااو څه داسي نور عوامل چي یادول یې اوس ضروري نه ګڼو ، موجود وو چي دحزب اسلامي ځواکونه عقب نشیني وکړي اوخپل سنګرونه د بالاحصارترڅنګ په بني حصار کښي مستحکم کړي.

په دغه وخت کي استاد رباني چي دقدرت کاندید و او دمجددي صاحب د دوه میاشتني واکمني وروسته دځلورومیاشتو له پاره د پیښور دترون له مخي واکمني ورسپارل کیده پخپله د پوهاند مجددي صاحب په هکله اندیښمن پریښیده . دحزب اسلامي قیادت هم په استاد باندي دپخواني اعتماد په اساس ، په بګرامیو کي دهجرت وروسته په لمړي لیدنه کي ځینواساسي ټکو څخه ترونونه وکړل چي ډېر اساسي ټکي یې داسلامي حکومت دجوړښت او ترڅنګ یې دکمونستو ځواکونو ټکول او له منځه وړل وو . ځنګه چي په دي وخت کي داستاد رباني اوپروفیسور مجددي تر منځ اړیکي هم ښه نه و ځکه پروفیسور مجددي صاحب دجمهور رئیس په صفت دنده اجراکوله خواستاد رباني دجهادي شورا رئیس په توګه و اوطبعاً مجددي صاحب هم ددغي شورا غړي و. نو په اجرائیوي توګه ددوي ترمنځ ستونزي موجودي وي . همداراز د پوهاند مجددي صاحب اوحزب اسلامي ترمنځ هم په دغه وخت کي اړیکي دومره ښه نه وي . نواستاد رباني دخپلي راتلونکي دتضمین په خاطر غوښتل دحزب اسلامي ملاتړ تر لاسه کړي اوحزب اسلامي هم حاضر و داستادرباني ترڅنګ په مشروط ډول ودریږي .او چي دشرایطو څخه یې یوهم دکمونستو قطعاتو انحلال او دخاد دجاسوسي اداري له منځه وړل و . په هر صورت استاد په دغه ترونونو کي دلاسلیك وروسته کوم عملي قدم پورته کولوته تیار نه و. دوهمه لیدنه په ریشخوروکي داستاد سیاف په منځګړتیا وشوه چي په هغي کي استاد رباني ته شکایت وشو چي دکابل راډیو او تلویزیون چي عملاً د جمعیت د وګړو په لاسوکي دي دحزب اسلامي اودهغي دقیادت په خلاف ستراتګیزه تبلیغات اونشرات کوي چي باید کنترول شي . خو په دي پړاو کي چي دپوهاند مجددي دوه میاشتي وخت پوره کیدو ته نژدي واستاد رباني داقتدار د انتقال په پروسه کي دحزب ملاتړ دترلاسه کولو هڅه کوله . حزب اسلامي یوځل بیا استاد دڅه اصولي پریکړي اودهغي د پلي کولو له پاره وړاندیزونه وکړل خو داستاد رباني اصرار دقدرت په انتقال واو نوروړاندیزونه یې اوس له وخت نه دمخه ګڼل په دغه وړاندیزونوکي حزب اسلامي غوښتل چي استاد وعده وکړي په خپله دغه لنډه موده کي به دولس د خوښي دیومنتخب اسلامي حکومت دجوړیدو له پاره اقدام کوي.

د استاد رباني اوانجنیر حکمتیار ترمنځ دغه لیدنو کومه ګټوره نتیجه ورنکړه دبلي خوانه په کابل کي ځاي په ځاي شوو کمونستي قطعاتو او خاد هم هر وخت غوښتل د خپلوتبلیغاتو او هم عسکري تحرکاتو په اساس حزب اسلامي د جنګ میدان ته راکاږي . حزب اسلامي چي هڅه یې کوله داسلامي حکومت دجوړښت په خاطر دسولي اوخبرو اترو لمن پري نژدي د سعودي دیوه شهزاده په منځګړتیا یې دنظار دشورا د قوماندان احمد شاه مسعودسره دلیدلو او پریکړي له پاره اماده شو. اصلاً حزب په دغه وخت کي ولیدل چي له یوه اړخه داستاد رباني سره لیدني کتني اوپریکړي کول کومه عملي ښه نلري له بلي خوا احمد شاه مسعود یواځني ځوك دي چي که توافقات ورسره ترسره شي نو څه عملي زمینه به پري مرتبه وي؛

همداراز احمد شاه مسعود دپخواني کمونست رژیم دپاتي قطعاتو سره ائتلاف درلود او دتعهد په صورت کي داوپرمکن و چي دپه توانیږي داقطعات قدم په قدم منحل کړي او په ځاي کي دحزب اسلامي سره دتعهداتو نه مخي یو ګډ اومشترك نظام منځته راوړي

داحمد شاه مسعود اوانجنیر حکمتیار ترمنځ لیدني نژدي اوه ساعته وخت ونیو ،او دیوڅو اساسي توافقاتو وروسته داغونډه پاي ته ورسیده خو ځنګه چي توقع کیده هغسي نتیجي پري مرتب نه شول اودهغي علت دا و چي پخپله احمد شاه مسعود هم یو څه مجبوریتونه درلودل او په مقابل کي حزب اسلامي هیڅ تکلیف نه درلود. دهماغه مجبوریتونو له مخي د چي د داوړو خواو دګټوهیئتونو کي هم یې نتیجي پاته شو . اوشکره نتیجه په ډاګه وو. او هغه د کمونستو قطعاتو اوخادیستانو ځوا یې حزب اسلامي دجنګ تحمیلول و.او دا هغه څه و چي حزب او دحزب قوماندانانو تري ډېره درلوده . جنګ ونښت دیوي میاشتي څخه یې زیات دوام وکړ . نتیجه د وړ خواوته ډېره درنه وه . ولس په کي زیانمن شو . خوکمونستو ځواکونو چي کوم اهداف په کي درلودل هغه تر سره نه شول

دننګرهار جهادي شورا دسولي هیئت رامینځته شو . تعهدات وشول . خو پري مرتب نه شول.

دجنګونو دمصیبت او غم نه ډك دغه وخت کي دسولي هیئتونو هم خپل کړ پري نښیود او په دي ترتیب داستاد رباني اوانجنیر صاحب حکمتیار ترمنځ په پلچرخي کي دیوي بلي لیدني زمینه برابره کړي شوه .خونتایج پري مرتب نه شول . ددي وروسته په اسلام اباد کي په ۱۹۹۳ کال په لمړیو شپو کي ترون لاسلیك شو.

د پلي کولو له پاره یې په ننګرهار کي جهادي مشران نژدي ۲ شپي دجهادي شورا میلمانه شول کابینه جوړه

(۷)مخ

درحاشیه سفر هیئت اداره ائتلافي به جلال آباد

آیا سران ائتلاف خواهان حل جهادي قضیه کشوراند؟!

اعلام شده است که روزچهارشنبه گذشته (۱۲ دلو) هیئتي ازسوي اداره ائتلافي به سرکردګي سیاف که درترکیب آن سیدنورالله ،یونس قانوني وارسلارحماني شامل بودند، وارد شهرجلال آبادګردیده تاظاهراً درموردحل بحران جاري کشوربامحترم مولوي محمدیونس «خالص» ،اعضاي شوراي جهادي ننګرهارونمایندګان حزب اسلامي افغانستان ګفتګوومذاکره نمایند. قابل یاددهاني است پیشترازین هم آقاي سیاف رهبرګروه اتحاد درکاب رئیس اداره غیرقانوني ائتلافي (رباني) به شهرجلال آباد وزیرزمیني هاي کوه شمشاد سفرنموده بامولوي محمدیونس (خالص) ومولوي محمدنبي (محمدي) مذاکراتي راانجام داده بودند .

اینکه آقاي رباني به واقعیت هم رئیس جمهورافغانستان نبوده وماه هاقبل میعاددوره زمام داري اش پایان یافته ، شاید هیچکسي بجز حامیان سراپاقرص وخریده شده اش شك وتردیدي نداشته باشند، امااریشه این حرف که چرا رباني حل جهادي قضیه افغانستان را عنوان مي کند ویخاطردست یابي به چنین هدف مقدس !!تلاش مي ورزد،مطلب اساسي است که روي آن درین مقال تماس مي ګیریم .

رباني ازسرطان سال ۱۳۷۱خورشیدي تاکنون که دوسال نه ماه ازآن سپري مي شود به ذرایع وبهانه تراشي هاي ګوناګوني خودرا بالاي مردم تحمیل نموده وبه هیچصورتي حاضرنیست ازکرسي خیالي ریاست جمهوري اش کناربرود. حامیان رباني دردوران زمام داري وي براي آنکه سلطه غیرقانوني اورامو جه وقانوني جلوه دهند وبه ملیت هاي دنیا ثابت بسازند که ګویا به خواست اکثریت مردم به این سمت دست یافته است ،دردونوبت باتدویر یکسري جلسات فرمایشي که بیشترشرکت کنندګان آنهاراافراد مربوط به جمعیت تشکیل میداده،تااینګونه درسه ناحیه شهرکابل خودرا محفوظ نګهداشتند،ولي حالاکه دیګربراي او(رباني) وحامیانش دیګرمیرورودلیلي باقي نمانده است . بانشخوار نمودن حرفهاي ازقبیل تشکیل حکومت جهادي توسط ګروههاي مجاهدین، قصددارند تلاشهاي میانجیګرانه مستیري را سبوتاژنمایند .

رباني ورفقاي ائتلافي اش اګربه تشکیل حکومت جهادي توسط مجاهدین قلباً ایمان میداشتند ونمي خواستند براي بیګانګان درامور داخلي کشورمازمینه دست اندازي ومداخله مهیاګردد، پس چرا درآغازپیروزي مجاهدین چنین طرحي راپیشنهاد نکردند واندیشه تشکیل حکومت جهادي راازدست نګرفتند !! رباني درشرایطي شعارهاي حکومت جهادي را زمزمه میکند که درین تنظیم هاي مجاهدین اعتماد کاملاً ختم ګردیده ویکي بالاي دیګر باورنمي نمایند .

اداره ائتلافي باعنوان کردن حکومت جهادي توسط مجاهدین میخواهد بازهم حزب اسلامي راتنهاکرده راه اضمحلال ونابودي اش راتدارك ببیند. رهبري حزب بارهابه حرفهاي ظاهراً چرب سران ائتلاف اعتماد نموده،بحرف هاي آنها باورنموده است. اماکنون وقت آن ګذشته است که سران خودخواه ائتلاف باخاك انداختن درچشم هاي حقبین افراد حزب غایله دیګري را بوجود آورده واز فرصت به سودخویش فائده بګیرند .

حکومت جهادي که رباني میخواهد تشکیل بدهد بدون شك نیروي مدافع وحمایوي آن بابه جان وسایر کمونستهاي مزدور که همین حالا درپهلویش قراردارند، میباشند . ازینرو به سخنان اواعتماد نمودن وباوي همګام شدن جز اینکه کمکي باشد براي بقاي اعضاي حزب کمونست وطن درقدرت، براوضاع بحراني کشور ماکدام اثرمثبتي نخواهد ګذاشت .

رباني وداروددسته اش ازیکسو دم ازتشکیل حکومت جهادي مي زنند وبه میانجیګران سوداني وپاکستاني وانمود مي سازند که باحزب اسلامي هیچنوع مشکلي ندارند، ولي ازسوي دیګرباحمایت ازغایله طالبان که معلوم نیست ازطرف کدام منبع بیروني تقویه وتمویل مي شود، پلان نابودي حزب رادرسرمي پرورانند .

سران ائتلاف از آغازپیروزي جهاد تاکنون درهرګامي فقط هدف شان این بوده که حزب اسلامي وحامیان وفاشعارآنراضعیف وناتوان ساخته براي پادشاهي خیالي شان زمینه سازي نمایند .

ورود هیئت ائتلاف به سرکردګي آقاي سیاف به جلال آباد درشرایطیکه فرستاده ویژه سازمان ملل (محمودمستیري) اعلام نموده است که در هفته جاري لست اعضاي حکومت آینده را تحویل جناحهاي درګیرخواهد نمود، خودمیرساندکه رباني به بهانه تشکیل حکومت جهادي میخواهدعده یي رانشویق نماید تابه حمایت از حکومت غیرقانوني وخائنانه وي بپاخواسته چند صباحي دیګربه عمرننګین اداره ائتلافي افزوني ببخشند.

درلحظاتیکه کشورمادراثرجنګهاي بي حاصل ګروهي به ویرانه یي تبدیل ګردیده وفردفرد هموطنان مسلمان ماازنداشتن امنیت وآرامش،داد وفغان سرمیدهند،همنوایي باربانی بمثابه اشتباه جبران ناپذیریست که افغانستان را بسوي چندپارچګي وتجزیه سوق خواهدداد. مردم ماقبل ازهرچیزدیګر به وحدت ملي وزدایش بذرهاي کینه ونفاق نیاز مبرم دارند، مسلماً وحدت ویکپارچګي ملیت هاي مسلمان،ساکن درافغانستان ،کشوردوست داشتني مارا ازخطراحتمالي تجزیه نجات داده، راه بهروزي وسرافرازي را بسوي آینده هاي درخشان وپربار برخ ملت ماخواهد ګشود .

اداره ائتلافي بدون شك علامت تجزیه وچند پارچګي رابخود ګرفته است ویقیناً درموجودیت آن خطربزرګ دشمني شمال باجنوب وغرب کشورباشرق آن حتمي بنظرمیرسد.بناءً براي رهایي ازچنین تهلکه که ملت مسلمان ماراناتوان وزبون حال خواهد ګردانید، کناررفتن رباني ازمنصه قدرت وتشکیل یك حکومت ملي واسلامي که درترکیب آن همه ګروههاي سیاسي ومطرح درکشورحصه داشته باشند ازاولویت هاي این زمان به شمارمیرود . وبایست همه جناحهاي دلسوز درجهت برآورده ساختن چنین هدفي مساعي پیګروبي امان مرعي دارند.

اخلاق روزه دار

پوهاند نعمت الله "شهراني"

اسلام دين اخلاق وسلوك پسنديده است که بايد شخص مسلمان درتمام مراحل زندگي ودرهمه اوقات وامكنه آنرا بحيث فريضه، ديني مراعات نمايدتاكه شخصيت اسلامي آن تكميل گردد.

گرچه اخلاق وداشتن روش پسنديده ازمسلمان هميشه مطلوب است وليكن دربعضي اوقات وحالات وشرايط خاص مراعات آن بيشتر، لازمي وضروري است که ازجمله آن اوقات وحالات يكي هم ماه مبارك رمضان است که شخص روزه دار بخاطراحترام اين ماه مبارك وتكميل ثواب واجرروزه اش مكلف مي گردد که آداب واخلاق اسلامي را نسبت به هروقت ديگربيشترمراعات كند که اينك برخي ازآن بحيث مشت نمونه، خرواربراي خوانندگان محترم تقديم مي گردد.

۱- دوروغ نگفتن : طوريكه گفتيم دوروغ هميشه حرام وناروا است وليكن دررمضان بدتر، حرام ترونارواترمي باشد چنانچه حضرت رسول الله ص مي فرمايد:

روزه داريكه دروغ وعمل مطابق آنرا ترك نكند خداوند كدام ضرورتي ندارد که وي خوراك ونوشابه اش راترك نمايد.

حضرت جابررض مي فرمايد : وقتيكه شماروزه مي گيريد پس بايد گوش ، چشم وزبان شماازارتكاب حرام روزه بگيرد وازاذيت مردم خودداري كنيد وبه بسياروقارو سنگين گشت وگذارنمائيد ، ورروزيكه روزه مي گيريد بايدفرق داشته باشد ازآن روزيكه روزه دارنيستند.

۲- دوري ازهمه انواع موسيقي ولهو ولعب : خداوند مي فرمايد : بعضي ازمردم كساني اندكه سخنان لهوولعب وبي مفهوم رابادادن پول خريداري مي كنند تاديگران رادرحالت بي علمي ازراه خدا گمراه سازند، درمقابل اعمال ناشايسته اين گروه عذاب خواركننده وذلت آوربراي شان داده مي شود.

ازحضرت عبدالله بن مسعود راجع به معني اين آيت پرسيده شد درجواب گفت : مقصدازلهوالحديث ،همين موسيقي وآوازخواني است.

حسن بصري روايت ميكند که اين آيت درخصوص سازوسرود وآوازخواني وطرب نازل شده ، بنابرآن شنيدن آنهادررمضان درحالت روزه داشتن به شدت ممنوع قرارداده شده است. حضرت رسول الله (ص) ازاستعمال طرب وموسيقي منع كرده وآنرادرپهلوي شراب وزنا قرارداده است ، طوريكه امام بخاري روايت ميكند که حضرت رسول الله (ص) مي فرمايد : درجمله امت من اقوامي پيدامي شوند که زنا،پوشيدن ابريشم ،نوشيدن شراب واستعمال آلات ووسايل سازوسرود وطرب راحلال مي شمارند.

مقصد ازحلال داشتن اين است که بدون انديشه ومبالات آنراطوري مرتكب مي شوند که يك شخص فعل حلال رابجاي مي آورد ودرغيرمشروعيت وناروا بودن آن هيچ نمي انديشند.

۳- ترك مجادله وقيل وقال : شخص روزه دار درحالت عبادت قراردارد بنابرآن شايسته نيست که زبانش راكه بايد بذكرخدا مشغول باشد به كلمات بي معني ، فحش ودشنام بيالايد . ازين سبب است که حضرت رسول الله (ص) مي فرمايد : اگركسي روزه دارا رانا سزاگويد ويا دشنام دهد اودرمقابل بگويد که من روزه دارهستم ، جواب مذكوراين معني دارد که روزه دارتنها ازخوردن ونوشيدن ممنوع نيست بلكه مكلف است که عفت وروزه زبان راهم حفظ كند وحتي که بدون ضرورت هم به سخن نپردازد ، زيرا امكان دارد که اززبانش كلمات وجملاتي بيرون شود که به حال روزه دار مناسب نباشد تاكه درعبادت وخلل ونقصاني وارد نشود.

٤- ضرورت ديگران رابضرورت خود ترجيح دادن : حضرت رسول الله ص ازجمله جوادترين وسخي ترين مردمان بودند که حتي اگربعدازگرسنگي زيادوضرورت شديد به طعام ، چيزي نان وطعامي بر شان ميسرمي شد آنرا بديگري ميدادند وضرورت ديگران رانسبت بضرورت خود مقدم مي شمارند ودرماه رمضان اين عادت واخلاق شان بالاترمي شد که دراحاديث ازسخاوت وجود آن جناب به اجود من الرياح المرسلة تعبيرميكند ، يعني سخي تروكريم ترازبادوزنده ، زيرا بادهم بسرعت مي وزد وهم به هرطرف جريان دارد وسخاوت وكرم جناب سيدالمرسلين درماه رمضان چنين بود : سخاوت درطعام دادن ، سخاوت درعلم وتعليم وسخاوت دروعظ ونصيحت وبالآخره سخاوت درهمه اخلاق حسنه ونيك.

٥- تواضع وشكست نفس : چون شخص روزه دار درحالت عبادت حداقراردارد وشخص درحين عبادت نسبت به هروقت ديگرمتواضع تروشكسته ترمي باشد بنابرآن مي بايد که شخص روزه دارنسبت بديگران داراي تواضع وفروتني بيشترباشد.

ازطرف ديگرچون خورد ونوش بسياروبرآوردن همه خواستها وآرزوهاي نفس ، سبب سركشي وتكبرمي شود ونفس در رمضان ازآن منع است بنابرآن اواحساس ميكند که درزندگي به اراده خو دآزاد نبوده بلكه تابع اوامر واراده ذات مقتدروواجب الوجودي قراردارد که بايد ازاحكام وي فرمانبرداري واطاعت شود وفهميدن اين رازسبب تواضع مي گردد . ازاين سبب است که رسول الله (ص) هميشه ارشاد مي فرمودند که بايد هيچ كس شكم خود را ازطعام سيرنكند . چنانچه اين سخن مبارك شان درنزدحكيمان وطبيبان مسلمان وغيرمسلمان مشهوربوده وبه حيث دستورالعمل شان است که مي فرمايند مامردمي هستيم که تاگرسنه نباشيم طعام نمي خوريم ، وچون طعام خورديم خود راسيرنمي سازيم.

٦- خدا رابيشترذكركردن : در رمضان بايد همه اعضا ، جوارح ، مغز، قلب وفكرودماغ روزه داربخدا متوجه باشد تاكه اين عبادت بامراعات همه شروط ونوازمش به حيث عبادت خالص براي خداشرف قبولي رابدرگاه الهي پيداكند ، بنابرآن شخص روزه داردررمضان غيرازخدابه چيزديگري متوجه نميشود وهمين توجه بخداخودش ذكروعبادت است.

ادامه دارد

سكان Sikism

دامسلك د پنځلسمي ميلادي پيړي په وروستيو اود شپاړلسمي ميلادي پيړي په لومړيو كي دهندوانو ځخه دبوي بيلي ديني ډلګي په څيره كي راڅرګند شو.

ددغه مسلك پيروان يو داسي خوي دين ته بلنه چلوي چي داسلام اوهندوايزم ځخه مركب وي . شعار اوچيغه يي (نه هندونه مسلمان)ده . خو په حقيقت كي دمسلمانانو سره پخوانۍ دښمني لري . اوهمدارنګه د هندوانو سره هم مخالف دي ځكه چي دوي دخپل ځان لپاره دتوي خپلواك وطن غوښتنه كوي . دامسلك دخپل جوړښت له لومړيو ورځو ځخه دبرتانوي استعمار د ناځكي اولاسپوځو په خير دشكيلاك ګوداګي و.

ددغه مسلك موسس (باباناناك) ؤ چي دوي ورته غورو (ښوونكي) وايه نوموړي په ۱٤٦۹ ميلادي كال كي لاهورته نږدي د (ري) په منطقه كي زيږيدلي اواصلاً هندو مسلكه ؤ، كله چي ځوان شو نو دافغاني واكدارانو سره په ماليه اوحساباتوكي دسلطان پور په علاقه كي په دنده بوخت ؤ . په هغه ځاي كي بي ديوي مسلماني كورني سره پيژندګلوي وشوه چي (ماردانا) نوميده او ددغه افغاني واكمن خدمت بي كاوه يدي وخت كي ده ځيني ديني نظمونه وليكل او يوهوتل بي پراست چي افغانانو او هندوانو به يكي په شريكه دودي خوړله. ديني زده كړي بي وكړي او په نړي كي وګرځيد مكي معظمي اومديني منوري ته هم لاړ.

ده ادعا وكړه چي ده خداي ليدلي او هغه ورته دخلكو په دعوت اوبلنه امركړي ، بيا تر ډيرو ورځو دخلكو له نظره پټ و چي كله بياڅرګند شونو وبي ويل چي :

(نه هندوايزم او نه اسلام) نوموړي له يو پلوه داسلام سره مينه درلوده خوله بل پلوه هغه دخپل اصليت روزني اوترببي له سببه بي دهندوايزم سره ټينګ تړاو درلود. دا هغه پښتيزه وجه وه چي نانك بي د دواړو مسلكونو پيروانو ته وهڅاوه.

يدي دول دهند په نيمه وچه كي يونوي دين غزوني وكړي ځيني ځيړونكي وابي چي نانك اصلاً مسلمان ؤخوخپل دين بي پريښود مرتدشو او داتوي مسلك بي غوره كړ.

ده دسكانو لپاره لومړي عبادت ځاي په (كارتارپور) كي جوړكر چي پهاوسني پاكستان كي پروت دي ، دخپلي مهمي ځخه مخكي بي دخپلوپيروانو ځخه يو دخليفه په حيث غوره كر . په ۱٥۳۹ م كال كي مړشو او دهندي پنجاب په ډيره باباناناك كي ښخ شو.

له ده نه وروسته لس نور غورو "ښوونكي " دده دخليفه ګانو په حيث بويه بل پسي دغه دنده اجراء كره چي وروستي يكي غوبندسنګ ؤ اود "ښوونكيو" دالړي بي ختمه كړه .لدي وروسته ددغه مسلك مشران دمهراجا په نامه ياديدل او په ټولو كي مهم بي مهراجا رنجيت سنګ و چي په ۱۸۳۹ م كال كي مړشو.

* افكار اوعقايد بي :

* دوي د توحيد لوري ته بلنه كوي .

* وايي چي الله هغه ذات دي چي د "خالق "او"حي" په صفتونو موصوف دي مرګ اوځيره(شكل)نه لري اوهمدارنګه ځيني هندوبي نوموړه هم ورته استعمالوي

خپل دښمنان وپیژنئ

... حبيب الله محمد يوسف ...

لكه " واه غورو ـ الجاب ـ خوډباباناناك په وراندي ډبرغوره نوم "خالق الحق" دي ، اوهرځوك چي ددغه خالق الحق سره دښمني كوي هغه وهم (پاړ اوويره) ګڼي چي دوي ورته (مايا) وابي.

* دوي د خداي د تمثيل دشكلونو اوځيرو په دول منع كوي ،اوهمدارنګه دغوا ،لمرسيوږمي ونواوغوښتانو عبادت هم نه كوي چي هندوايزم بي په خدايي مني اوهمدارنګه د ګنګ ،دسيند دپاكي هم قايل نه دي . ددغه مسلك پيروان ورو ورو له هندومسلك ځخه بيل شول اواوس دهند په نيمه وچه كي ديوځانګړي دين اومسلك په شكل كي ډير پيروان لري.

* باباناناك د خنزير غوښه اودشرابو څښل رواګڼلي اودغوايي غوښه بي حرامه ګڼله .

* ددغه مسلك بنسټ په پنځو تكو ولاړ دي چي په "كورمكي "ژبه هرتكي په كاف پيل كيږي .

اوعبارت دي له :

۱ - په بدن د راشنه شوو ويښتو بشپړ پرېښودل د پيدايښت نه ترمرګ پوري .

- ترځو ځوك پكي دځږو اوجواسوسانو په ځبرورواخل نه شي

- داوسپني يوه كړي دبګري په ځير په لاس كي اچول ،اوداڅكه چي داد ځان دكمتري اوكم ګبلو علامه اوسنه بولي .

- تربرتوګ د لاندي د نيكر اغوستل دعفت اوپاك لمني نښه بولي .

- دبوي ووړ ومنځي سائنه دخپلو ويښتانو دستانښت لپاره .

- نل دبوه واړه خنجر اوچاړي ساتنه دځان سره ډيره ضروري ګڼي ، ترڅوهر وخت دخپل ځان ځخه ددفاع لپاره چمتو وي.

ځيني عقيده لري چي پورتني شپان لسم ښوونكي (غوبندسنګ) غوره كري اويه خپلو پيروانو بي تحريم (ددخانياتو استعمال لكه تنباكو ، چرس ... هم حرام كرل.

دوي ښوونكي (غورو)له وروسته دخداي ته په دوهمه ديني درجه قائل دي ددوي په اېكل چي ښوونكي كولاي شي چي دوي دحق ورپښيا په خوا په سمه تيغ كړي" ،دوي دخداي عبادت دځيني سندرو اوترانو په څير شعرونو سره كوي چي همدا ښوونكي بي جوړوي

عقيده لري چي ديوه ښوونكي روح بل هغه ښوونكي ته ورځي چي ترلومړي ښوونكي وروسته دلومړي ښوونكي دنده ورسپارل كيږي .

دمعلم (ښوونكي) غوبند سنګ ... ۱ كسي چي په حكومتونوكي ديدلون اوالوښتون په اړه يكي يادوني شوي اواساوساكي) نوميږي دسكانو يوفكري مأخذ ګڼل كيږي.

- د پنځو عدد مقدس ګڼي ،اوهمدارنګه پنجاب ته هم په درنه سترګه ګوري.

- مذهبي شخړي د ديني مجلس په واسطه حل كوي كوم چي په امر تسر كي دائريږي او بوازېني قوي اوبااوري ديني ځواك اومرجع بي ګڼله كيږي.

سكان بوازي يوه ښځه كوي اويس .

- سكان دمغولو تر بريدونو لاندي راغلي چي تر ټولو دروند ګوزار ورياندي نادرشاه وكړ.

ددوي دوه غورو ،ښوونكي)بي په سولي وځړول اونوري غورنو او ميروته په شا تللو ته اړويستل.

لسم غورو (غوبندسنګ) دسكانو يوه ډله د"خالصه ؤ" په نامه منظمه كړه چي تاريخه بي ځانونو ته زمريان اوښځي ځانونو ته زمرياني وايي .په دغه ډله كي دګډون شرطونه ډيردي چي ځيني بي په لاندي دول يادوو.

* هرځوك چي غواړي يدي ډله كي غړيتوب وګټي نو هغه بايد ډيرسخت سلوكي ، اخلاقي اوديني تربيت حاصل كړي ، د حق او عدالت سره د مرستي په غرض لوڅوونه او جهادونه وكړي او دخپلو دخانياتو ځخه ځان ليري ساتي.

- د ۱۷٦۱ ميلادي كال ځخه وروسته دپنجاب حاكمان سكان ؤ ، دا هغه وخت ؤ چي دمغولو واكمني كاواكه شوي وه، په ۱۷۹۹ م كال بي لاهور هم لاندي كر اويه ۱۸۳۹ كال كي بي واكمني ترځيبر دري پوري وغزيده

كله چي انګريزانو پرغل وكر دسكانو اوانګريزانو ترمنځ نښتي وشوي، بيابي ترمينځ جوړ جاري وشو، جامو اوكشميربي انګريزانو ته دجنګ په تاوان كي وركرل او په لاهوركي بي هم بوانګريزه سكانو تر ولكه لاندي سيمو لپاره دواكمن په حيث ومانه . دانګريزانو سره بې ګچي مينه وه اودهغوي سره يي دپنجاب په نيولو كي ډيري مرستي وكري

. وروسته انګريزانو ورته ډيره غټه فيډه ترګوتو كره ځكه چي دوي ديومنظم پوځ په څير دانګريزانو په چوپر لګيا شول اودخپلواكي اوازادي دغورځنګونو په تېكولو كي بي دسكانو ځواك نه كاراخيست له يو پلوه بي غورځنګونه وربياندي تېكول او له بل پلوه دسكانو له شر نه خلاص وو. اوانګريزانو هم ټولي حاصل خيزي سيمي همدوي ته په سيمه اومنطقه كي دچوپړيه بدل كي وروسپارلي .

په لومړي نړيواله جګړه كي دهندي انګريزي پوځ شل فيصده سكان وو.

د هند حكومت تول هغه امتيازات لغوكرل چي انګريزانو سكانوته وركري وو اوهمدا وجه وه چي دوي دپنجاب دخپلواكي غوښتنه كوي چي خالصتان ورته جوړول غواړي.

د ۱۹۸٤ م كال دجون په مياشت كي اندراګاندي دهند صدراعظمي دامرتسر په ښار كي دطلايي معبد دنيولوامروكر چي په نتيجه كي ۱٥۰ سكان او ٥۰۰ حكومتي عسكروروژل شول .

اوهمدي كال داكتوبر په ۳۱ مه نېټه بوسك اندراګاندي ووژله ترځوورته دمروشويوسكانو اوددوي دطلايي معبد دسپكاوي غچ واخلي.

سكان دمسلمانانو په خلاف ډيرظالم اوشديد دي . مثلاً مسلمانان دخپلو فرائضو او ديني مناسكواداء ته نه پريږدي ، آذان اومسجدونه بي بندوي اوكله كله خو مسلحانه او وسله والي شخړي هم ورسره كوي.

(٦) مخ

دمنځنی آسیا په هکله دامریکا پالیسی

ژباړه اولنډيز : عزيزي "كاكړ"

په منځني آسيا كي دامريكا علاقمندي د نويو تحولاتو يو پراودي . دپخواني شوروي اتحاد دمنځني آسيا د جمهوريتونو د انفصال نه وروسته متحده ايالاتو منځني آسيا ته ديوي لويي كشف شوي سيمي په توګه چي دتجارت لپاره بيخي ، مناسبه وه كتل خوترځنګ بي دسيمي سياسي ثبات دځان دپاره ديوه جدي ګواښ منبع هم ګڼله ددي عواملو له امله منځني آسيا دامريكا دبهرني پاليسي پام ځانته واړاوه.

متحده ايالات دي ته ضرورت لري چي ديوه ابرقدرت په توګه په سيمه كي دخپلو علاقمنديو بيلابيل اړخونه په جدي توګه وڅيري . دمنځني آسيا په اړه دامريكا دلچسپي په څلوروعواملو كي خلاصه كيږي . لومړي ، دسهيلو اسلامي ګاونډيو سره دمنځني آسيا مجاورت او په دي سيمه كي داسلامي ويښتيابه وده ،كه ځه هم په منځني آسيا كي اوسني سياسي نظامونه سيكولراوحكومتي حلقي دروسيي او تركيي دهمكاري سره سره داسلامي ويښتيابه له تهديد سره مخامخ دي خو امريكايي سياست پوهان نه غواړي چي داسلامي جنګياليوترمنځ پراپكو سترګي پتيي كري خصوصاً په تاجكستان او ازبكستان كي.

دوهم ، دمنځني آسيا دهيوادونو په ګاونډكي له روسيي ، چين او افغانستان سره دځمكنيو اونژادي ستونزو موجوديت ددغو دايمي ستونزواودهغو دحل په اړه ديوه ميكانيزم نشتوالي ، دمنځني آسيا په اړه دامريكا په دلچسپي كي تاثيراچولي دي .

دريم : په سيمه كي دوسلو زياتوالي چي په تاجكستان اوافغانستان كي دكورني جګړو د دوام باعث شوي ، ددي ترځنګ متحده ايالات په قزاقستان كي داتومي وسلو دراتلونكي ځخه هم انديښنه لري .

څلورم : ددموكراسي راتلونكي متحده ايالاتو ته يو مهم سوال دي . له دي سره سره چي دمنځني آسيا مشرانو د دموكراسي اوازاد بازار د منځته راوړلووعده وركړي ده خودلته دسياسي آزادي اواقتصادي ليبراليزيشن په هكله كوم عمده تحول نه ترسترګو كيږي ، په تاجكستان ، ازبكستان اوقزاقستان كي دحكومت دمخالفينو په اړه ددي هيواد ونو دحكومت د تبي كرنلاري آثار نه ترسترګوكيږي .

منځني آسيا ته دامريكا دپام اړوني نورعوامل د لويي روسي دجوړولو تاريخي نظريه ، پراخه معدني منابع ،دمنځني آسيا پر سياسي ، كلتوري اوديني چارو دايران نفوذ اويه دي جمهوريتونو كي امريكايي ضد احساساتو دراپورته كيدو ويره تشكيلوي ،اود پورته عواملو دتركيب له مخي امريكا د منځني آسيا په هكله خپله پاليسي تعين كړي ده .

دمنځني آسيا په هكله دامريكا لوي مشكل ددي سيمي په هكله دمتخصصينو نه لرل دي ، دپخواني شوروي اتحاد كوم متخصصين چيّ امريكا په دولتي ادارو ، پنتاګون اوبانوروورسمي يانيمه رسمي ادارو كي كاركوي نشي كولاي چي د منځني آسيا په هكله د متحده ايالاتو پاليسي دموجوده اوراتلونكو چلنجونو ځخه وساتي .

دا متخصصين دمنځني آسيا په هكله دامريكا په معامله كي يواځي پر روسي ژبي دتسلط لرلو له امله مرسته كولاي شي اودا له دي امله چي په منځني آسيا كي اكثره خلك په روسي ژبه پوهيږي اويه روسي ژبه دامهارت په منځني آسيا كي دامريكا په معاملي كي لويه مرسته كوي په دي ورووستيو كي دامريكايه ځينو علمي موسسو كي د ددولت د عمومي پاليسي په هكله كاركيږي اود منځني آسيا په هكله د سياست پوهانو سره مرسته كوي .

برسيره پردي په منځني آسيا كي دروسيي ، تركيي ، هند ، اسرائيل ،اروپايي ټولني ، جاپان اوجنوبي كوريا دفعاليت له امله امريكا د پورتنيو هيوادونو مرستي ته اړتيا لري ،امريكا غواړي چي داسلامي خوځښتونو پرضد په دي سيمه كي دسيكولرو رژيمونو سره مرسته وكري ،كه چيري دامريكا په ګډون دمسلمانانو پر ضد دلويديځو الو داودل فعاليتونه دوام وموندي نو په منځني آسيا كي به امريكايي ضد احساسات وده وكري. دمسلمانانو پر ضد دلويديځوالوتعصب به پرته له دي چي په سيمه كي امريكايي ضد احساسات وزيږوي اودامريكاپرضد دښمني راپيدا كري بله ګټه به ورته ونه رسوي.

په منځني آسيا كي دضعيفو سياسي نظامونو له امله په دي سيمه كي امريكا له يو لړ ستونزو سره مخامخ ده ، ترځو چي نژادي ،ځمكني اومذهبي ناسازګاري حل نشي نو پانګه اچونه اوددتجارتي هڅي به موثره اومثبته نتيجه ورنكري .

ځينوامريكايي محققينو په آسيا كي دامريكا رول اوعلاقمندي په ژوره توګه څيرلي . جمز روبيرت چي يوامريكايي مبصر دي ، د (بهرني پاليسي) په نامه يوه جريده كي يوه مقاله خپره كري اويه هغي كي بي څرګنده كري چي په منځني آسيا كي دامريكا علاقمندي دلاندي دلايلو له امله حياتي اهميت لري.

- داسيمه په پراخه توګه دانرژي منابع لري چي دهغي ځخه كولاي شودپخواني شوروي اتحاد داتومي وسلو اووسايلو ځخه نوم واخلو.

- د دي ثبات د پخواني شوروي اتحاد نورو جمهوريتونو ته اهميت لري او ددي اداره په پراخه پيمانه په آسيا بي اواسلامي نړي تاثيراچوي كوم چي اوس بيرته سره يو ځاي شوي دي.

يو شميرامريكايي سياست پوهان دامريكااومنځني آسيا ترمنځ د ثابتواړيكو د ټينګولو په باره كي انديښمن دي . اكثراً دا احتمال په نظر كي نيسي چي د قوي اسلامي خوځښتونو دموجوديت اودګاونډي ايران دنفوذ له امله به داسيمه دامريكالپاره يودښمن جوړشي .

روبيرت دامريكا سياست پوهانو ته داسي مشوره وركوي :

"متحده ايالات بايد دمنځني آسيا ګدي وډي وضعي ته پام واړوي ځكه داسيمه دپراخو اتومي اومعدني ذخيرو د درلودلوسره سره اوس په فقركي شپي سبا كوي ،سياسي رهبران بايد له دي نه سترګي پټي نه كړي چي امريكا يواځيني نړيوال ځواك دي اومنځني آسيا نوي بازار "

متحده ايالات كولاي شي دخپل نفوذ اودوستانه اړيكو له امله په منځني آسيا كي ځانته د پښواينولو ځاي پيدا كري . كه دمنځني آسيا په هكله داوږدي مودي لپاره امريكا خپلي هلي ځلي په كار واچوي نو په سيمه كي به دامريكا درول په باره كي مهم تحول راشي . دا رښتيا ده چي متحده ايالاتو د منځني آسيا ځينو جمهوريتونو سره په خپلو مرستو كي زياتوالي راوستي دي (دا هيواد له اروپايي ټولني او جاپان وروسته دريم لوي مرسته كوونكي د- ي) اوامريكا بي كمپنيو په بيليونونه دالره پانګه اچونه كري ده خو كومه په زړه پوري نتيجه بي نه ده وركري.

(٦) مخ

په کوهدامن اوپروان کی د ائتلافی اداری فتنی

مجيب

.دمسعود لومړي توطيه دسيمي خلكواومجاهدينوخوا ډيره ژرشنده شوه اوهم هغه شميرقوماندانان چي دناچلوبيسويه بدل كي ددغي فتني داجراكولويه خاطرګومارل شوي وو، هغوي هم ډيرژردمسعودپه مافي الضميرپوه اوله جنګ نــه بي لاس واخيست . كله چي دمسعودلومړي توطيه په بشپړه توګه ناكامه شوه نوبيابي ددغي سيمي دقوماندانانو ترورولوته ملاوتړلـه ترځودمشهورو قوماندانانوددترورولو پـه وسيلهٔ ددغي سيمي امنيت په بي امني بدل كړي .

داچي په دي ترتيب هم په دغه سيمه كي ګــډوډي رامينځــته نشوه ترڅومسعود دهغي ګډوډي نه ګټه پورته كړي ، نوداځل بي بله توطيه جوړه كړه اوغوښتل بي چي دكوهدامن ټول قوماندانان دستګيراويه سيمه كي په داسي حال كي چي زموږيه جنګ ځپلي هيوادكي دسولي اوروغي جوړي خبري اتري دملګرومللتوځانګړي استازي محمودمستيري ،دسودان هيئت اودپاكستان د I.S.I دپخواني مشرجنرال حميدګل لخوادځه مودي راهيسي روانې دي، اوزموږ كړيدلي اوځوريدلي ولس له هروخت نه زيات دسولي روانوخبرواترو ته اميدوارهم دي چي ګوندي كه خداي (ج) كول داځل به دهيواد روانه ربړه ددغومصلحينو دهلوځلويه نتيجه كي حل شي، ګوروچي دكابل ائتلافي اداري اصلي لوبغاړي اودنظارډلګي مشراحمدشاه مسعودله يوي خوابه خپلوغير مسئولانه ويناوو غواړي ددغومصلحينو هلي ځلي سبوتاژكړي اوله بل لوري بي عملاً دجګړي نوي پراوونه دهيوادپه بيلابيلو سيمولكه كندز، غزني ،پروان اودكابل ولايت په شمالي سيمو كي پيل كړي .

دنظارډلي مشر مسعود ،دخپل ماجراجويانه خصلت له مخي دهيواد په هغويرخوكي چي داسلامي انقلاب له بري نــه راپــه ديخوادسيمي قوماندانانواومشرانودنوبنت له امله په نسبي توګه دده دشرانګيزانه اوفتنه جويانه اعمالونه په امان پاتي شوي، غواړي په يوډول نه يوډول هغه سيمي هم ناآرامه اودجګړويه وګريدلي اوبالاخره بي دخپلي انحصارطلبي په پنجوكي راګيركري دمثال په توګه دكابل شمالي سيمي كوهدامن اودپروان ځيني برخي چي دڅه مودي راهيسي دمسعود له فتنو اوتوطيو اصلي مركزګرځيدلي يادي كړو.

دكابل شمالي سيمه كوهدامن (شكردره ،ميربچه كوټ ، قره باغ ،بګرام) او دپروان كاپيساځيني برخي سره لدي چي په دغوسيموكي ځه ناځه دائتلافي اداري پلويانويه خلاص مټ كارهم كاوه ، خوبياهم مسعود اودهغه انهيوالانويه دغه سيمه كي دخلكوآرامي اوامنيت چي دسيمي دقوماندانانو دنوبنت له امله مينځته راغلي ونه زغملاي شو نوځكه بي دڅه مودي راهيسي دغه سيمه دفتني اچولو اصلي هدف ګرځولي ده . مسعود ددغي سيمي دامنيت ګډوډلويه خاطربي لمړي ځني ځان پلوري اوضميرخرځونكي افراد اوقوماندانان دناچلوبيسويه بدل كي واخيستل اوبيابي هغوي دشكردري ولسوالي دناامنوقوماندان انورخان ، هردم شهيد ، اودميربچه كوټ ولسوالي يوبل قوماندان مستري سيدبابا په مقابل كي راوپارول حال داچي داودواړه قوماندانان دجمعيت پخواني غړي اوهم جمعيت دناامنوقوماندانانوځخه شميرل كيږي بي امني راولاړه كري، په همدي خاطربي دكوهدامن قوماندانان دشورا اومشوري په نامه دبګرام هوايي ډګرته وغوښتل .

داچي دسيمي قوماندانان دمسعود په دي توطيه پوه وو نواكثروقوماندانانو دبګرام هوايي ډګرته له تلو ځخه ډډه وكړه ، صرف يودوه قوماندانان لكه آغاشيرين سالنګي اودقره باغ يوقوماندان ورغلل، مسعود چي دنوروقوماندانانودنه ورتګ له كبله په ... سره شوچي دده توطيه دموي ... دناسوي تودوري ... قوماندانان بي بنديان اويه سيابانذي بي له مخكي نه طرحه شوي پلان په اساس لومړي په قره باغ اوچهاريكار اويه بله ورځ بي ميربچه كوټ اوشكردري كي دجګړي اوربل اوددغي سيمي امنيت بي په بي امني بدل كړ . اوس ســوال دادي چي مسعود په ځه توريرته له دي چي دامنيت اوآرامي دښمن وګڼل شي په دي عمل لاس پوري كړ.

مسعود په سولي اوآرامي باورنلري هغه په دي لټه كي دي چي تراخرني سلګي پوري وجنګيږي ،ده داكارپه دي خاطروكرچي كه دي دكابل ... په زور اويا هم دسياسي فشارله ... ايستل كيږي بيا وتوانيږي چي دكوهدامن نه خپل مقاومت اوجنګ غوښتني پاليسي ته دوام وركړي كه داخبره نه وي اودكابل كوهدامن اوپروان دمړنيومجاهدينوخوارلس كلنوقربانيو اومبارزوته ځيرشو نوبي له كومي مبالغي ويلاي شو، همدااوس كه ددغي سيمي نوم هغه روسي عسكرته چي يووارهم له دغه سيمي نه تيرشوي وي واخلي نوخامخابه په روسيه كي دهغه له سترګونه خوب وتښتي ، كه داسلامي انقــلاب دبري په لومړيو شپيوكي ددغي سيمي دخلكو همكاري نه چي دمسعود سره بي وكړه اوهغه ته بي دااجازه وركړه چي ددغي سيمي دشهيدانويه وينورنګ شوي سرك باندي دده كاروان كابل تــه ورسيږي

(۷)مخ

په اسلامي ریاست کې دفقهي اختلافونو حل

په تیر پسې — زیارن : عبدالودود "محسن"

دتابعینودور :

له صحابه کرامورضي الله عنهم نه وروسته چې داسلامي ښاروتوپه بیلابیلومرکزونوکې کوموخلکودفتوې اوقضاچارې پرمخ بیولې هغه دادي : په مدینه منوره کې - سعیدبن مسیب (رض) سالم بن عبدالله بن عمر(رض) اوبیا امام زهري (رح) ، قاضي یحیی بن سعید (رض) ، ربیعـــه بن عبدالرحمن .

